بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

**باطله او فاسده نکاح**




**پوښتنه:**

السلام علیکم ورحمته الله و برکاته!

امیر صاحب، الله سبحانه و تعالی دې له هرې بلا وساته.

زما پوښتنه دا ده، چې د نکاح د صحت او د انعقاد د شرطونو ترمنځ توپیر څه دی؟ یاد شرطونه به پر دغه تړون څه اغېز ولري او د یادو شرطونو پر بنسټ کله نکاح باطله او کله فاسدېږي؟ الله د خیر درکړي، الله سبحانه و تعالی دې پر دښمن بری درکړي او الله سبحانه و تعالی د تل له بلاوو وساته.

**ځواب:**

وعلیکم السلام ورحمته الله و برکاته

1. موږ یاده پوښتنه په ډېر وضاحت سره د اسلامي نظام کتاب د ټولنیز نظام په برخه کې بیان کړې ده:

«... نکاح په پیل کې د یوه مشروع وړاندیز ایجاب او قبول له لارې رامنځته کېږي. ایجاب د عقد کوونکو لورو د یوه له بیان څخه په لمړي ځل رامنځته کېږي. قبول د پاتې لوري له بیان څخه په دویم ځل رامنځته کېږي.

**د نکاح د انعقاد څلور شرطونه دي:**

**لومړی:** ایجاب او قبول په یوه مجلس کې صورت نیسي، په هغه مجلس کې چې ایجاب ترسره شوی وي په ورته وخت کې به قبول هم ترسره شوی وي. دا په داسې حال کې ده، چې باید دواړه عقد کوونکي لوري یوځای شتون ولري. که دوه عقد کوونکي لوري په بېلا بېلو هیوادونو کې اوسېږي او یو لوری د لیک له لارې بل لوري ته د نکاح وړاندیز وکړي او دویم لوری یې قبول کړي، نو د نکاح عقد وتړل شو. که څه هم، په دغه حالت کې شرط دا دی چې د دوو شاهدانو په حضور کې به دا (مېرمن) یاد لیک لولې او یا به یې کوم بل کس ورته لولي. یا دا باید دوی ته ووایې چې فلانې ما ته لیک رالېږلی دی او د نکاح وړاندیز یې راته کړی دی او اوس دا مېرمن په ورته مجلس کې د شاهدانو په حضور کې شاهدي ورکوي، چې دې خپل ځان هغه ته په نکاح ورکړی دی.
**دویم**: هر یو له دواړو عقد کوونکو لورو څخه باید د بل لوري خبرې واوري او ځان پرې پوه کړي یعنې دا چې دی غواړي نکاح وتړي. که دی نه وي پوه شوی دا مانا چې ده خبرې نه دي اورېدلي او یا یې نه دي درک کړې، نو د نکاح تړون اعتبار نه لري. د بېلګې په توګه، که یو سړی یوې ښځې ته په فرانسوي ژبه په لوړ اواز ووایې: « ما له تا سره نکاح کړې ده». په داسې حال کې چې دا ښځه په دغې ژبه نه پوهېږي او دا یادې خبرې له دې پرته چې پرې پوه شي، تکرار کړي او سړی په پرله پسې ډول د قبول الفاظ تکرار کړي، نو په دې صورت کې نکاح اعتبار نه لري. خو که دا ښځه د دغو کلمو په مانا پوه شي، چې زه څه وایم دا د نکاح تړون دی، نو بیا د نکاح تړون اعتبار لري او د نکاح تړون وشو.
**دریيم:** قبول به له ایجاب سره مخالف نه وي، که دا مخالفت له ټول ایجاب سره وي یا یې له کومې برخې سره.
**څلورم:** شریعت به عقد کوونکو ته یو له بل سره د نکاح اجازه ورکړې وي، د بېلګې په توګه که مېرمن مسلمانه او یا اهل کتابه وي، نو سړی به مسلمان وي او بس. که د نکاح تړون یاد څلور شرطونه پوره کړي، نو نکاح اعتبار لري. که له یادو شرطونو څخه یو شرط پوره نه شي نکاح صحیح نه ده او له پیل څخه باطله ده.
**کله چې نکاح وتړل شي، نو د صحت شرطونه یې په لاندې ډول دي:**
**لومړی**: مېرمن باید د نکاح تړون ته مناسبه وي. لکه: « په ورته وخت کې به له دوو خویندو سره نکاح نه کوي».
**دویم**: له ولي پرته نکاح نه صحیح کېږي، ځکه چې مېرمن حق نه لري چې خپل ځان یا نور څوک بل ته په نکاح کړي. همدا راز، دا له خپل ولي پرته نکاح نه شي کولی. که دې داسې وکړل، نو نکاح یې صحیح نه ده.
**دریيم**: دوه عاقل او بالغ شاهدان به د عقد کوونکو لورو خبرې اوري او ځانونه به پرې پوه کوي، چې دا د ایجاب او قبول خبرې د نکاح په موخه ترسره کېږي. کله چې د نکاح عقد دغه شرطونه پوره کړي، نو عقد صحیح دی. که یاد شرطونه پوره نه شي، نو نکاح فاسده ده. موږ په ټولنیز نظام کې د یادو شرطونو لپاره دلایل بیان کړي دي. او د هغو دلایلو پر بنسټ که په نکاح کې یو د انعقاد له شرطونو څخه پوره نه شي، نو نکاح باطله ده او که د صحت له شرطونو څخه یې یو پوره نه شي، نو په دې صورت کې د نکاح تړون فاسد دی.
۲- موږ باید د فاسد او باطل ترمنځ په توپیر پوه شو. باطل په اصل کې له شریعي حکم سره ټکر لري، یعنې دا کار اصلا منع شوی دی، یا دا چې د دغه تړون یو لازم شرط پوره نه دی او د دغه شرط نشت د

عمل (نکاح)اصل زیانمنوي. فاسد په اصل کې له شريعي حکم سره سمون لري، که څه هم ځانګړنې يې له اصل سره ټکر نه لري، خو له شريعت سره سمون نه خوري.
په عباداتو کې فاسد عقد نشته، خو باطل عقد شته. ځکه چې شرطونه او رکنونه د شريعي حکم په اصل پوره تړلي دي. البته فاسد تړونونه په معاملاتو کې ترسره کېږي. د بېلګې په توګه، په معاملاتو کې د هغه څه چې د حيوان په خېټه کې وي پلورل باطل دي، ځکه شريعت له دې کاره منع کړې. همدارنګه هغه ښاري کس چې پر بل صحرايي کس باندې يو څه پلوري، په داسې حال کې چې صحرايي کس له صحرا څخه راغلی وي او له نرخونو څخه خبر نه وي، نو په دې صورت کې د ښاري کس دغه کار فاسد دی. ځکه که دغه صحرايي کس مارکېټ ته راشي، نو هلته واک لري چې ياد شی وپېري او يا يې فسخه کړي.
په شرکتونو کې ونډې له پيل څخه باطلې دي، ځکه يادې ونډې فزيکي شتون نه لري. دغه ونډې له هغه شرط څخه خالي دي، چې په اصل پورې تړاو لري. خو که دغه شريکان د شريعت له اصولو سره سم شريکان شي او له شريکانو څخه يې يو ټينګار وکړي چې دی به يوه ټاکلې اندازه د يو شرط پر بنسټ ترلاسه کوي، نو د شرکت تړون فاسد دی ځکه چې په وصف کې غرر ( ناڅرګند عنصر) شتون لري، نه په اصل کې. ځکه چې ياد شريک په دغې معامله کې يوه متناسبه ګټه لري، نه يوه معلومه اندازه، نو شرکت ښايي له زيان سره مخ شي. که ياد شريکان د سلنې پر بنسټ شريکان شوي وي، نو معامله فاسده نه ده بلکې صحيح معامله ده.
له همدې امله، په عباداتو کې د باطل او فاسد ترمنځ کوم توپير نشته(دواړه په يوه مانا دي). عبادات هم صحيح (ګناه لرې کوونکي) وي او هم ناصحيح(واجب ساقط کوونکي نه) وي. لمونځ ښايي صحيح يا باطل وي. خو باطل له فاسد سره په مالي تړونونو کې توپير لري، د اړتياوو د پوره کېدو يا د ملکيت د انتقال سبب ګرځي لکه: د بيعې، اجارې، حوالې او د شراکت تړونونه يا دې ته ورته.
په نکاح کې باطل او فاسد تړونونه دواړه له شريعت سره خلاف دي، خو باطل تړون له پيل څخه باطل دی او پر نکاح هيڅ کوم اغېز نه لري. که د يوې ښځې او نارينه ترمنځ دخول شوی وي، نو زنا شمېرل کېږي او د ماشوم نسبت زنا کوونکي ته نه کېږي. اوس نه عدت شته، نه مهر شته، نه حرمت مصاهرت(له ښځو سره د نکاح حراموالی)، ځکه دا کار له پيل څخه باطل دی. خو په فاسد عقد پورې اړوند، شريعت د صحت له شرطونو سره مخالفت کوي نه د انعقاد له شرطونو سره. له همدې امله دواړه لوري د ګناه مرتکب شوي، که دخول شوی وي، نو اغېز او پايلې لري. خو که دخول نه وي شوی هېڅ اغېز او پايلې نه لري. د فاسد عقد پايلې چې دخول شوی وي، په لاندې ډول دي:
مهر: په فاسده نکاح کې مهر هغه وخت لازمېږي، چې دخول شوی وي. په دې اړوند د رسول الله (صلی عليه و سلم) هغه حديث مصداق دی، چې فرمايي:

**«أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَتْ بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا...»**

(ترمذي)

هره هغه ښځه چې د خپل ولي له اجازې پرته نکاح وکړې، د دې نکاح باطله ده، د دې نکاح باطله ده، د دې نکاح باطله ده؛ که دخول ورسره شوی وي، نو دا ښځه د مهر اخيستلو وړ ده ځکه چې هغه د دې د شخصي غړو ليدلو مستحق شوی. ويل کېږي دا حديث، حسن دی.

په پورته حديث کې رسول الله صلی عليه و سلم هغه ښځه د مهر اخيستلو وړ وبلله چې واده يې د فاسدې نکاح له لارې ترسره شوی وي ( د خپل ولي له اجازې پرته) په دې شرط چې دخول شوی وي. ځکه پېغمبر (صلی الله عليه و سلم) مهر ته له دخول سره تړاو ورکړ.

**«فَإِنْ دَخَلَ بِهَا فَلَهَا الْمَهْرُ بِمَا اسْتَحَلَّ مِنْ فَرْجِهَا»**

که د دې خاوند له دې سره خلوت صحيحه کړی وي، نو دا د مهر اخيستلو وړ ده ځکه چې هغه د دې د شخصي غړو د ليدلو مستحق شوی

په هغه صورت کې که دخول شوی وي، فاسده نکاح نورې ګڼې پایلې هم لري. خو په دې اړوند ډېر بیان او د فقهاوو اختلافات شته. لکه: عدت، نسب، میراث او له ځینو ښځو سره د نکاح حراموالی. د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې اړوندو ماخذونو ته مراجعه وکړئ.

**The link to the answer from the Ameer’s Facebook page.**

**The link to the answer from the Ameer’s page on Google Plus.**

**The link to the answer from the Ameer’s page on Twitter.**

الله سبحانه و تعالی ستر عالم او حاکم دی.

**ستاسو ورور عطا بن خلیل ابو الرشته**

**۲۹ جمادی الاول ۱۴۳۹ هـ.ق، مه**

**ګڼه: ۱۵/۲/۲۰۱۸**

**پوښتونکی:فراح فراحت**

**ژباړن: صدیق احمدزی**